مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند
٢٠١٩/٠٢/٢٨

# مورنۍ ژبه،

## ستونزې او حللارې

### څلورمه برخه

**مورنۍ ژبه یوه داسې ونه ده چې بېلابېلې څانګې او په زرګونو، لکونو او لا میلیونونه پاڼې یا لغتونه لري، دا ونه که اوبه نه شي، که ونه پالل شي، که شتمنه نه شي؛ نو څنګه هیله کولای شئ چې د دې ونې پاڼې به زېړې نه شي، وبه نه رژېږي او دا ونه به زړه او پوده نه شي؟**




د پاسنیو وړاندیزونو تر څنګ، د مورنۍ ژبې د ستونزو او پوښتنو په برخه کې، څو نوې خبرې او نوي وړاندیزونه:

**ستونزې:**

آیا چا تر اوسه په دې باب فکر کړی دی چې ولې مورنۍ ژبې پښتو د وروسته پاتې والي او د بربادۍ دې برید ته رسېدلې ده؟ کله یې پر دې ستونزه خبرې کړې دي او یا یې چېرې یو څو کرښې پر دې ستونزه باندې لیکلې او خپرې کړې دي که نه؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**ما يې ځينې دلايل داسې په نښه کړي دي:**

ــ له تعليم څخه د پښتون قوم لرې پاتې کېدل،

ــ په زړو او دوديزو افکارو کې نښتل،

ــ پر پښتنو باندې د جګړې تحميلول او په عمدي ډول په پښتني سيمو کې د جګړې اور تود ساتل،

ــ پښتانه اتفاق نه لري:
تاسو هر يو فکر وکړئ چې دا اوس په څومره ګوندونو، ډلو، سيمو، ولايتونو، خېلونو او... باندې وېشل شوي ياست.
کار مو يو لاس او خبره مو يوه نه ده، ويل کېږي يو څه، کېږي بل څه، له ملي او سترو ارمانونو څخه؛ خپلو ګروپي او ګوندي ارمانونو او عقايدو ته ډېر ژمن ياست،

ــ پښتون چې تل د جګړې د ډګر اتل دی، قربانيږي؛ خو د بريا نه وروسته د بوټو په ځای کې ناست وي،
نو د ژبې به يې څه حال وي؟

ــ د ننه په افغانستان کې، په دفترونو کې د خپلو څوکيو او مقام د ساتلو په غرض اداري سازشونه. مورنۍ ژبه مو د سياسي او اداري تضادونو په دورو کې ورکه کړې او هېره کړې ده. او تر ټولو رنځونکې لا دا ده چې همدا کسان، د دې پر ځای چې خپله مورنۍ ژبه او د ژوند مثبتې تجربې خپلو اولادونو ته ولېږدوي، دوی خپل منفي او بربادونکي ګوندي او سليقوي تضادونه او کرکې راتلونکو نسلونو ته لېږدوي. د دې اعمالو او تېروتنو د څو پرلپسې کلونو تکرار پايله دا ده چې دغه ټيپ خلک حتی په خپلو کورونو کې هم مورنۍ ژبه نه لري،

ــ پښتو ژبه د اړتيا له ژبې لرې ساتل شوې ده، ځکه يې څوک زدکړې ته زړه نه ښه کوي،

ــ پښتو په لوی لاس د اقتصاد، علم، هنر، سياست او... له کتاره ايستل شوې ده، په ميډيا کې د پښتو برخه په ديني موضوعاتو باندې ډکه شوې ده، حتی د افغانستان په ملي تلويزيون کې،

ــ که هر زماني واټن وټاکل شي او د هغه وخت په اوږدو کې د دولتي او نا دولتي او حتی د اشخاصو کړه د مورنۍ ژبې په برخه کې وارزول شي، ليدل کېږي چې هلته نور خو پرېږده، حتی په خپله پښتنو لا هغه څه کړي چې مورنۍ ژبې ته يې نه يوازې ګټه نه ده رسولې، بلکې خپلې مورنۍ ژبې ته يې بنسټيزې ستونزې پېښې کړې دي او پښتو يې دې خوار حالت ته رارسولې ده،

ــ د مورنۍ ژبې په برخه کې سياسي سازشونه،

ــ مهاجرتونه او په پردي چاپېريال کې له مورنۍ ژبې بې برخې پاتې کېدی،

ــ د مورنۍ ژبې په برخه کې د ډېرى کورنيو او په تېره مېندو پلرونو بې پروايي، نه پاملرنه او د ورځنيو ستونزو او يا لږ ارامتيا په صورت کې هر څه ته شا کول او په کلونو، کلونو او لا نسلونو د دې تېروتنې تکرار او دوام،

ــ د سياسي او نظامي ډلو د تېروتنو په پايله کې، د خپل پښتون حريف د ماتولو او بد نامه کولو له پاره د پروپاګندو په نتيجه د پښتو ژبې او ټولو پښتنو بدنامه کول (د تره کي، امين او ډاکتر نجيب پر ضد؛ د دوی د خپلو ګوندي حريفانو پروپاګندې، د ګلبدين، سياف، طالبانو او نورو پښتو ژبو سياسي نظامي مشرانو د کارنو او عملونو په مقابل کې د سيالو ډلو تبليغات)

ــ له يو شخص او کورنۍ نه نيولې، تر دولتي ادارو او مقاماتو پورې د مورنۍ ژبې پښتو په برخه کې بې تفاوتي او د «خير دی» پاليسي،

ــ د سياسي ګوندونو، ځينو ډلو او ځينو اشخاصو په برخه کې کله دعوې شوې ده چې پښتو مورنۍ ژبې ته يې کار او خدمت کړی دی، خو همدې دعوا کونکو دې ته هيڅکله پام نه دی کړی چې پښتو مورنۍ ژبې او پښتنو ته د يادو په اصطلاح خدمتګارنو د واک په دوره کې، د دوی د کړنو په پايله کې څومره خلک يوازې د دې له پاره د پښتو او پښتنو په ضد عقده اخيستې چې ياد خدمتګاران پښتانه و او په پښتو غږېدل او اوس يې داسې د پښتو ژبې او پښتنو سآه ايستلې چې بېرته يې سمول يا ناشوني دي او يا ډېر وخت ته اړتيا لري (ښې او غوره بېلګې يې د افغانستان په شمال کې تېرې شوې او اوس هم رواني دي)،


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

ــ خپلي مورنۍ ژبي سره سطحي او بيتفاوته چلن او په ورځنيو كارونو كي د ورځچاري پاليسي،

ــ په پښتو ژبه باندي د علمي موادو نشتوالی. دا موضوع په نيغه ورګرځي تحصيل كړو او په بهرنيو ژبو پوه ليكوالو او قلموالو ته چي د دوی په قلم، په پښتو باندي علمي او د اړتيا وړ مواد نه ليكل كيږي او نه ژباړل كيږي (كه شوي دي، په نشت حساب دي)،

ــ د كلونو ـ كلونو پرلپسي تېروتنو د تكرار او غفلت په پايله كي اوس د پښتو ژبي وضعيت دومره خراب دی چي، زموږ كوچنيان په خپل وطن كي دننه په ډېرو سيمو كي په خپله مورنۍ ژبه د زدكړو امكانات نه لري، پښتانه كوچنيان محكوم دي چي په بله ژبه زدكړه وكړي، د بهرميشتو كوچنيانو موضوع خو دې پر خپل ځای وي،
او...

دا او دې ته ورته دلايل او تېروتني د دې سبب شوی چي پښتو مورنۍ ژبه د بربادۍ دې بريد ته او دې خوار حالت ته رسېدلي ده.

د ځلورمي برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليرلو مخكي په ځير و لولئ